**مطبوعاتي اعلاميه**

# د حزب التحریر د وېبپاڼو وروستي لنډمهاله بندول

د دښمنانو له ټولو هغو هڅو او دسیسو سره سره چې غواړي د خلافت فکر د مسلمانانو له ذهنونو څخه لرې کړي، دغه فکر په اسلامي امت کې په خورا لوړه کچه عام شوی. "د خلافت د بیا تاسیس غوښتنې" د غربي دولتونو ټول سیاسي او فکري سازمانونه له لویې اندېښنې سره مخ کړي دي، دوی پوره هڅه کوي چې عامه ذهنونو ته د دعوت د سپېڅلي فکر د رسېدلو مخنیوی وکړي.

هغه "تخینکي تجارتي" شرکتونه هم د دښمن له کاروان سره یو ځای شول چې تل یې د بې پرېتوب ادعا کړې ده! دغه شرکتونه د هغو دولتونو سیاسي الې دي، چې په ښکاره د خلافت له مفکورې سره دښمني کوي. د Cloudflare شرکت (له کلونو خدمت وروسته)، اوس Stackpath شرکت هم ناڅاپه د حزب التحریر له وېبپاڼو څخه له کومې خبرتیا پرته د DNS، د وېبپاڼې د خوندیتوب او منځپانګې سپارلو خدمتونه بند کړل. له همدې امله په تېرو دوو میاشتو کې دوه ځله دغه وېبپاڼې بندې شوې. زموږ وېبپاڼې هغو شرکتونو بندې کړې وې، چې د خوندې کولو ژمنه یې کړې وه؛ نو دا څه ډول درغلي او خیانت دی!؟

د مسلمانانو د مشهور دښمن او د سپینې ماڼۍ د اوسني مشر ډونالډ ټرمپ ذهنیت د خپلو ژمنو خلاف ښکاري. داسې معلومېږي چې د ده ذهنیت په دغو دوو شرکتونو کې پوره نفوذ کړی وي او ښایي دا په امریکا کې نورو تجارتي او تخنیکي شرکتونو ته د دغه نفوذ د تګ پیل وي.

د خپلو غلطیو د توجیه لپاره لومړي شرکت د حزب التحریر ناقانونیتوب پلمه کړی او دویم شرکت یې بیا د بندیدلو علت له منل شوو اصولو او تګلارو څخه د حزب التحریر سرغړونه بللې ده!

پر دې سربېره چې موږ دواړو شرکتونو ته د دوی د کړنو په اړه پوره ثبوتونه او اسناد وړاندې کړل او دوی ته مو ثابته کړه چې حزب التحریر یو سیاسي او فکري حزب دی. دغه حزب د نړۍ په ډېری هېوادونو کې فعالیت کوي. په ډېرو مشهورو ښارونو کې کنفرانسونه ترسره کوي، میدانونو ته راوځي او خپل فکر په ټولنو کې خپروي. دا کومه جنګي ډله نه ده، له تېرو اوو لسیزو راهیسې په خپله ثابته تګلاره پېژندل شوې ده او په ډېرو لویو نړیوالو ارشیفونو کې د سیاسي ماخذ په توګه ذکر شوې ده.

موږ دواړو شرکتونو ته په ډاګه کړه، چې حزب التحرير کوم ناقانونه حزب نه دی، د نړۍ په ډېرو لويو هېوادونو کې فعاليت لري؛ پرته له هغو هېوادو چې په نړيواله کچه ديکتاتوران ياديږي او په خپلو هېوادونو کې د هر ډول سياسي فعاليت مخه نيسي، لکه د منځني ختيځ ځينې هېوادونه.

همداراز موږ دوی ته وښوده چې حزب التحرير په ښکاره او قانوني توګه په هغه هېواد کې هم فعاليت کوي، چې دغه دوه شرکتونه پکې دي.

د پورتنيو ټولو ثبوتونو پر وړاندې دغو دوو شرکتونو موږ هغه قانوني دېپارټمنټ ته واستولو، چې د خپل اېميل ادرس تر شا ورک دي. يوازې پيغام، نيوکې او پوښتنې تر لاسه کولای شي، خو ځواب نه ورکوي او دا په حقيقت کې له دسيسوي چوپتيا پرته بل څه نه دي.

دا د ډونالډ ټرمپ د ښکاره دښمنۍ او خيانت فکر دی، داسې معلوميږي چې دغه فکر يادو شرکتونو ته نفوذ کړی او د دوی لخوا ورسره منل شوی دی. ځکه هغه شرکتونه څنګه د خپل هېواد له قوانينو څخه د سرغړونې جرات کولی شي؟! په داسې حال کې چې مرکزي دفترونه يې په امريکا ( هغه هېواد چې په قانون او قضاوت باندې خورا مشهور دی) کې دي. دوی به څنګه د داسې کار جرات کړی و؟ له دې څخه ښکاري چې د دوی ولسمشر د خيانت په تړاو هېڅ څرګند فکر نه لري او پر خپلو ژمنو نه درېږي.

دا په واقعت کې د نبوت پرتګلاره د خلافت د تاسيس ضد کمپاين دی. له دې څخه ښکاري چې دوی په فکري توګه ماتې خوړلې او اوس هڅه کوي چې زموږ مخه ډپ کړي او د حزب التحرير د قوي، نېغې او سپېڅلې ايډيالوژۍ مخنيوی وکړي.

حزب التحرير د هغو رښتينو او مخلصو مسلمانانو ډله ده، چې د الله سبحانه و تعالی دغه امر ته يې لبيک ويلی دی:

**﴿وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾**

[ ال عمران:۱۰۴ ]

***ژباړه:*** *په تاسو کې بايد يوه ډله هرو مرو داسې وي چې نيکۍ ته بلنه وکړي؛ په ښو امر وکړي او له بدو منعه وکړي. څوک چې دا کار وکړي، هغوی به بريالي وي.*

دغه ډله نن ورځ له اوو لسیزو ثابت پاتې کېدو وروسته له ملت څخه په یوه امت بدله شوې ده. دا ډله اوس له خپلې ثابتې تګلارې څخه خبره ده او د یوه لوی او عظیم امت په منځ کې د خلافت د زرینو ورځو په هیله کار کوي.

د امریکا د دولت او د هغې د بدنیتو او تخریبوونکو مرستیالانو کمپاین د دوی فکري ماته (افلاس) ښیي. دا د دوی د ماتې ښکاره ثبوت دی، چې غواړي زموږ خولې وتړي او د حزب التحریر د قوي، نېغې، ښکاره او سپېڅلې ایډیالوژۍ مخه ونیسي. د وېبپاڼو بندېدل به هېڅکله هم حزب التحریر د هغه دعوتګر، مخلصین او ملاتړي کمزوري نه کړي. د الله سبحانه وتعالی په مرسته د دوی شمېر ورځ تر بلې ډېرېدونکی دی، الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّه الْمَكْرُ جَمِيعاً يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ﴾**

[رعد:۴۲]

***ژباړه:*** *له دوی څخه مخکې چې کوم خلک تېر شوي دي، هغوی هم غټ غټ چلونه کړي دي. خو د اصلي پرېکړې تدبیر په ټوله معنا یوازې د الله سبحانه وتعالی په لاس کې دی. هغه پوهېږي چې څوک به څه وګټي او د حق منکران به ډېر ژر پوه شي، چې پایله د چا په ګټه تمامیږي.*

**انجنیر صلاح الدین عضاضه**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/ ۳**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د صفر ۴مه**

**۲۰۱۹ م کال، د اکتوبر ۳مه**

**د فیسبوک لپاره**: دا ډله له خپلې ثابتې تګلارې څخه خبره ده او په یوه ستر امت کې د خلافت د زرینو ورځو د راتګ په هیله کار کوي.